# خلک له کرونا او فقره مري، د افغانستان حکومت د دوی له کفنه غلا کوي!

څو خبرنیز راپورونه ښیي چې د افغانستان دولتي چارواکو له کرونا سره په مبارزه او له بېوزلو خلکو سره په مرسته کې میلیونونه ډالر غلا کړي دي. خبرنیز راپورونه وايي چې دغو چارواکو د خلکو له وچې ډوډۍ ۸۰۰ میلیونه افغانۍ غلا کړې دي. طبي وسایل او توکي یې د بازار له بیې څو برابره لوړ حسابلي او میلیونونه ډالر یې خپلو جیبو ته اچولي دي. که څه هم د افغانستان فاسد دولت هڅه کوي چې د دې موضوع د څېړنې لپاره د پرلپسې کمیسیونو په جوړولو د خلکو احساسات مړه کړي؛ خو دولت هېره کړې چې د فساد غر یې دومره اوچت شوی، چې په څو ګوتو نه پټېږي.

په واقعیت کې په افغانستان کې فساد د شعارونو، ادارو، کمیسیونونو او قوانینو د جوړولو پر خلاف ورځ تر بلې ژور کېږي. دولت ادعا کوي چې فساد یې کم کړی دی؛ خو واقعیت دا دی چې فساد کم شوی نه دی، بلکې بڼه یې بدله شوې. دولت د اصلاحاتو او سیستم‌جوړونې په نامه د مفسدینو او له غرب څخه د راغلو کسانو نوی نسل، پر لوړو پوستونو ګومارلی دی او له امله یې فساد ژورې ریښې موندلي دي او څو برابره زیات شوی دی.

فساد د پانګوالي-ډیموکراسي نظامونو نه بېلېدونکې برخه ده او د پای ته رسولو مسئله یې هم د خلکو له ژونده د دغو نظامو د ټغر په ټولېدو پورې تړلې ده. د څېرو بدلون، کمیسیونونه او اداري جوړول او د قوانینو تصویب یوازې پر ټیټ رتبه او تر لاس لاندې کسانو د فساد لارې بندوي؛ خو چارواکي په بې‌غمه زړه فساد کوي او د قانون او عدلي بنسټونو له سترګو پټېږي. نو د دغه نظام په وسیله د فساد له منځه وړل ناشوني دي، چې خپله د اشغال، فساد او درغلۍ له لارې پر خلکو تپل شوی وي او مفسدین د همدغه نظام زېږنده دي.

یوازینۍ لاره چې د فساد جرړې ایستلی او ټولنه د فساد او مافیا له منګولو ژغورلی شي، د یوه عادل اسلامي دولت په اډانه کې د اسلامي ارزښتونو او افکارو پلي کول دي؛ څکه اسلام متقي او پرهېزګاره رهبران او شخصیتونه روزي، چې هغو ته تر دنیا آخرت ډېر اهمیت لري او څوک چې آخرت ته ترجیح ورکړي، فساد نه کوي. هغوی سرچینې او امکانات پر مستحقو کسانو وېشي، ناروغانو ته د خپلو کورنیو د غړو غوندې رسېدنه کوي او حاکمیت مسوولیت ګڼي، نه د مال ګټلو وسیله.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**